**سویفټ څه شی دی او څنګه کار کوي؟**

ډېر کله به مو لیدلي اوریدلي او یا به مو هم خپله د بانکونو له لارې بهر ته د پیسو د لیږد یا را لیږد چاره تر سره کړې وي.
همدا چاره چې تاسو یې پر مټ بهرنیو هېوادونو ته په برېښنایي ډول پیسې لیږئ، همدې سیستم ته چې په وسیله یې بانکونه سره نښلول شوي دي سویفټ وایي.
سویفټ د پیغام رسولو یوه شبکه ده چې مالي ادارې یې د کوډونو د معیاري سیسټم له لارې معلومات او لارښوونې په خوندي ډول د لیږدولو لپاره کاروي.
سویفټ په انګلیسي ژبه کې ( The Society For Worldwide Interbank Financial Telecommunication)
چې (SWIFT) یې مخفف دی دا د بانکونو تر منځ د اړیکو د نړیوالي شبکې معنا لري.
سویفټ ځو کاره سیستم دی چې چارې یې د کوپراتیف شرکت په توګه پرمخ وړل کیږي او هغه بانکونه چې د دې سیستم غړي دي، په ګټه وټه کې شامل دي.معلومات ښیي چې سویفټ په نړۍ کې د بانکي اړیکو یوه پراخه شبکه ده چې په ۲۰۱۹ زېږدیز کال کې له یوولس زره زیاتو د سویفټ غړو مؤسسو په ورځني ډول د دې شبکې له لارې ۳۳.۶ میلیونه لیږنې او را لیږنې تر سره کړې دي.
د سویفټ له لارې د پیسو لیږد څنګه تر سره کیږي؟
که څه هم د پیسو نړیوال لیږد را لیږد په بانکونو کې یوه ترټولو مهمه مسئله ده، خو په یاد ولرئ چې دا چاره له سویفټ سره هېڅ تړاونه لري، سویفټ یوازې د بانکونو تر منځ دنښلولو رول لوبوي.
د بېلګې په توګه: په دووهېوادونو کې په بانک کې دوه پیرودونکي غواړي چېله یو بانک څخه بل بانک یا له یو هېواد څخه بل هېواد ته پیسې ولیږدوي.
په دې برخه کې دA هېواد پېرودونکی له بانک څخه غواړي چې د Bهېواد پیرودونکي ته پیسې ولیږدوي، نو د A څانګه د سویفټ له لارې خپل همکار ته خبر ورکوي چې څه وکړي او یا کومه چاره تر سره کړي. بانک پیسې لیږدوي او د لیږد جزئیات یې د محاسبې سیسټم ته دننه کوي.
که چیرې د لیږدوونکې مالي اداره په منزل ( هغه هېواد ته چې پیسې استوي) څانګه و نه لري، نو کولای شي له نورو بنسټونو مرسته وغواړي او که دواړه بانکونه په دریمه اداره کې حسابونه ولري، نو دوی له دریم بانک یا ادارې غواړي څو په دې برخه کې ورسره مرسته وکړي او د پیسو د لیږد را لیږد چاره تر سره کړي.
د سویفټ د کارولو ګټې:
معیاري خدمتونه
باوري خدمتونه او چوپړونه
د لیږد را لیږد په چارو کې خوندیتوب
ګړندیتوب( د نړۍ هرې برخې ته په کم وخت کې د بانکونو لارې د پیسو لیږد را لیږد)
په لګښتونو کې کموالی
لاسرسی ( د نړۍ په هره برخه کې دې سیستم ته لاسرسی)
د حسابونو ګړندۍ چاڼ ( له دې لارې د حسابونو تصفیه وخت ته اړتیا نه لري او هر وخت چې ګټه اخیستونکی وغواړي معلومات تر لاسه کولای شي)

د یادونې وړ ده چې په دې وروستیو کلونو کې افغانستان کې هم بانکوالۍ پرمختګ کړی دی او دا مهال د دې هېواد ډېر شمېر بانکونه له نورو نړیوالو بانکونو سره د سویفټ او نورو شبکو له لارې نښلول شوي دي او پېرودونکي کولای شي په ډېرې آسانۍ سره په کور دننه او بهر د پیسو د لېږد را لېږد چارې تر سره کړي.
باید وویل شي چې دا مهال د افغانستان بانک داسې هڅې روانې کړې دي چې په دې برخه کې لا ډېر پرمختګونه رامنځته شي او افغانستان د بانکوالۍ په برخه کې له نړیوالو پر مختللو هېوادونو سره سیال شي.

ژباړه او را ټولونه: حسیب الله نوري

سرچینې:

How the SWIFT System Works (investopedia.com)

What Is SWIFT and How Does It Work?

ByAnjaSimiconDecember 9, 2020

https://www.letsdeel.com/blog/what-is-swift